د امیرِ اهلِ سنّت د کتاب "مدني پنج سوره" یو قسط

# د دُعا

## غوښتلو 17 مدني کلونه

پښتو


د دُعا درې فائدے 02

د درې کسانو دعا نه قبلیږي 06

15 قرآني دعاکانې 14

"د آیةُ الکُرسی" پینځه برکتونه 17





شیخِ طریقت، امیرِ اهلسنّت، بانیٔ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

دا مضمون د کتاب "مدني پنج سوره" د صفحه 182 تا 202 او 14 تا 15 نه اخستے شوے دے-

# د دُعا غوښتلو 17 مدني ګلونه

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "د دُعا غوښتلو 17 مدني ګلونه" اولولي یا ئې واوري، د هغه په نیکو او جائزو مُرادونو د رحمت نظر اُوفرمائے، د هغه دعاګاني قبولې کړې او هغه بے حسابه اوبخښې.

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شريف فضيلت

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د جُمعے په ورځ په ما سل ځله دُرُود شريف اولوَلي، چې کله به هغه د قیامت په ورځ راځي نو هغه سره به یو داسې نُور وي چې که هغه په ټول مخلوق تقسیم کړے شي نو ټولو ته به کافي شي.

(حليةُ الاولياء، 8/ 49، حديث: 11341)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دُعا اَهَمِّيَّت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دُعا غوښتل ډیر غټ سعادت دے، په قرآن او اَحادِيثِ مبارکه کښې ځائے په ځائے د دُعا غوښتلو ترغیب ورکړے شوے دے. په یو حدیثِ پاک کښې دي

چې: ”آيا زه تا ته يو څيز اُونه ښايم چې هغه تا ته ستا دُښمن نه خلاصے درکړي او ستا رِزق وسيع کړي، شپه او ورځ د **الله** تعالیٰ نه **دُعا** غواړه ځکه چې **دُعا** د مُؤمِن وَسله ده.“

(حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج٢ ص٢٠١ حديث١٨٠٦)

## دُعا بلاګاني دَفع کوي

د مکِّـي مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوشبودار ارشاد دے: ”بلا راکوزيږي بيا دُعا ورشي د هغې سره يو ځائے شي. بيا د قيامته پورې جګړه کوي.“

(اَلْمُسْتَدْرَك ج٢ ص١٦٢ حديث١٨٥٦)

## په عِباداتو کښې د دُعا مُقام

**حضرتِ** سَيِّدُنا ابوذر غِفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ارشاد فرمائي: ”په عِباداتو کښې د دُعا هُم هغه حيثِيَّت دے کوم چې په طعام کښې د مالګې دے.“

(تَنْبِيهُ الْغَافِلِين ص٢١٦ حديث ٥٧٧)

## د دُعا درې فائدے

د **الله** تعالیٰ **محبُوب** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: کوم مسلمان چې داسې خبره اوکړي چې په هغې کښې د ګُناه او قطعِ رِحمئ څه خبره شامِله نه وي نو **الله** تعالیٰ هغه ته [په دې] درې څيزونه کښې يو ضرور عطا کوي ﴿١﴾ يا د هغه د دُعا نتيجه زر د هغه په ژوند کښې ظاهره شي. يا ﴿٢﴾ **الله** تعالیٰ څه مصيبت د هغه بنده نه لرې کړي. يا ﴿٣﴾ د هغه د پاره په آخرت ښيګړه جمع کړے شي. په يو بل رِوايت کښې دي چې بنده (کله په آخرت کښې د خپلو [هُغه] دعاګانو ثواب اووِيني، کومې چې په دُنيا کښې مُستَجاب شوې نه وې (يعني قبولې شوې نه وې) نو خواهش [يعني ارمان] به کوي چې، کاش! په دُنيا کښې زما يوه **دُعا** هُم نه وے قبوله شوې.

(اَلْمُسْتَدْرَك لِلحاکم ج٢ ص١٦٣، ١٦٥ حديث١٨٥٩، ١٨٦٢)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده دُعا كله هُم نه ضائِع كيږي. د دې كه په دُنيا كښې اثر ښكاره نه شي نو په آخرت كښې د دې اجر و ثواب ضرور حاصليږي ځكه په دعا كښې سستي كول مناسب نه دي.

## د "ياعَفُوّ" د پينځه حُرُوفو په نِسبت 5 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ وړومبئ فائِده دا ده چې د الله تعالیٰ د حُكم تعميل كيږي ځكه چې د هغه جَلَّ جَلالُهٗ حُكم دے چې: زما نه دُعا غواړئ ځنګه چې په قرآنِ پاك كښې ارشاد دے:

اُدْعُوْنِیْۤ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: زما نه دُعا غواړه، زه به ئې قبلووم.

(پ ٢٤ المُؤمن: ٦٠)

﴿2﴾ دُعا كول سُنَّت دي ځكه چې زمونږه خوږ خوږ مَكِّـي مَدَني آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په اكثرو وختونو كښې **دُعا** كوله. لِهٰذا دعا كولو كښې به **په سُنَّت باندې د عمل** كولو شَرف هُم حاصليږي.

﴿3﴾ دُعا كولو كښې د رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري هُم ده ځكه چې آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خپلو غُلامانو [يعني صحابهٔ كرامو] ته د دُعا غوښتلو تاكيد كولو.

﴿4﴾ دُعا غوښتلو والا د عبادت ګُزارو په ډله كښې داخليږي ځكه چې دُعا پخپله يو عِبادت بلكه د عِبادت هُم مَغز ده. ځنګه چې زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ

ترجَمه: دُعا د عبادت مَغز [يعني زړے] دے.

(سُنَنُ التِّرمِذی،ج٥ ص٢٤٣ حديث٣٣٨٢)

﴿5﴾ په دُعا كولو يا خو د هغه ګناه معاف كړے شي يا په دُنيا كښې د هغه مسائل حل شي يا بيا هغه دُعا د هغه د پاره د آخرت ذخيره جوړه شي.

## معلومه نه ده چې څه ګناه را نه شوي ده؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده؟ دُعا كول د اَللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُهٗ او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري هُم ده، دُعا كول سُنَّت هُم دي، په دُعا كولو د عبادت ثواب هم حاصليږي او د دُنيا او آخرت بيشميره فائدے هُم حاصليږي. بعضې خلق د دُعا قبليدو د پاره ډيره تادي كوي بلكه مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ [يعني د الله پناه] خبرې هُم جوړوي چې مونږ خو د دومره وخت نه دُعا ګانې كوو، په بزرګانو هُم دعاګانې كړي دي، يو پير فقير هُم نه دے پريښے، فلانكۍ فلانكۍ وظيفے هُم لوَستلي دي، فلانكي فلانكي مزار ته هُم تلي يو خو الله تعالٰی زمونږه حاجت هډو پوره كوي نه. بلكه بعضې خلق دا خبره هُم كوي چې: معلومه نه ده چې څه ګناه را نه شوي ده چې د هغې سزا راكوله شي.

## لـمونځ نه كول خو لكه چې هډو خطا نه ده!

داسې خبرې كولو والا نه كه تپوس اوكړے شي چې وروره زما په خيال تاسو لـمونځ خو به كوئ؟ نو شايد چې په جواب كښې اووائي چې، "نه جي." نو تاسو اوليده چې خُلې له خو فوراً دا خبره ورځي چې، "معلومه نه ده چې څه خطا رانه شوي ده؟ چې د هغې سزا راكوله شي!" او په لـمانځه كښې د خپل غفلت هډو څه پرواه نه كوي، لكه لـمونځ نه كول چې (مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ) هډو ګناه نه وي! بلكه خپل مُختصر غوندې وجود ته دِ سوچ اوكړي، اوګورئ! د سر وِيښته انګريزي، مخ د مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُښمنانو آتش پرستو [مجوسيانو] په شان، يعني په مخ ئې د تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظِيم سُنَّت ګِيره مباركه نشته! رسم و رواج د اسلام د دُښمنانو په شان. لـمونځ هُم نه كوي. حالانكه لـمونځ نه كول سخته ګُناه ده، ګِيره خَرَئيل حرام. او ټوله ورځ دروغ، غِيبت، چُغلي، وعده خِلافي، بدګُماني، بدنګاهي، د مور وپلار نافرماني، كنزلې كول او رد بد وئيل، فلمونه او ډرامے كتل، سندرې او سازونه اوريدل وغيره

وغیره او نور بیشمیره ګناهونه کوي. خو دا ګناهونه "مُحترم" ته هډو ښکاري نه، او د دومره دومره ګناهونو کولو باوجود ئې شیطان غافِله کړي. او په خُله ئې دا کِیله وي. ؎

"کیاخطاہم سے ایسی ہوئی ہے؟ جس کی ہم کو سزا مل رہی ہے!"

یعني: " زما نه څه خطا شوي ده؟ چې د هغې سزا راکولے کیږي!"

## د کوم دوست خبره چې اُونه مني

لږ سوچ خو اوکړئ! چې ستاسو یو ګران دوست تاسو ته څو څو ځله د یو کار اُووائي خو تاسو د هغه کار اونکړئ. او بیا چې کله تاسو د هغه دوست ضرورتمند شئ نو ښکاره خبره ده چې تاسو خو به د مخکنې نه په زړه کښې د دې خبرې ویره لرئ چې ما خو د ده یو کار هم نه دے کړے، نو هغه به څنګه زما دا کار اوکړي! بیا که تاسو هِمَّت اوکړئ او هغه ته د هغه کار اُووائے او واقعي هغه، هغه کار اونکړي نو بیا هم تاسو د هغه نه کِیله نه شئ کولے، ځکه چې تاسو خو هُم د خپل دوست یو کار هُم نه وو کړے.

اوس ښه په اِطمینان سوچ اوکړئ چې **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى خومره خومره کارونه ښودلي دي څنګه څنګه اَحکامات ئې جاري کړي دي، مګر تاسو د هغه په کومو کومو اَحکامو عمل کوئ؟ نو معلومه به شي چې د هغه د ډیرو اَحکامو په پوره کولو کښې مو ډیره زیاته کوتاهي کړي ده. اُمِّید دے چې په خبره به پوهه شوي ئې چې پخپله خو د پروردګار جَلَّ جَلَالُهٗ په حکمونو عمل نه کوو، او که هغه د کومې خبرې (یعني دُعا) اثر ظاهر نه کړي نو کِیلے قِیصے شروع کړو. سوچ اوکړئ که تاسو د خپل یو نزدے دوست یوه خبره بیا بیا رد کوئ نو کیدے شي چې هغه ستاسو سره دوستي پریږدي. خو **الله** تعالیٰ په بندګانو خومره مهربانه دے چې که د هغه د حُکمونو هر څومره نافرماني اوکړي، بیا هم هغه د خپلو بندګانو د فهرست [یعني لِسټ] نه نه اُوباسي. هغه مسلسل خپل فضل و کرم جاري ساتي. لږ سوچ خو اوکړئ! کوم بندګان چې احسان

فراموشي کوي، که هغه هُم د سزا په طور هغوئي د خپلو احساناتو نه محرومه کړي نو د هغوئي به څه کيږي؟ يقيناً څوك د هغه د فضل نه بغير يو قدم هم نه شي اخستے. اوګورئ! هغه خپل عظيمُ الشّان نِعمت هوا بالکل هسې عطا کړي ده، که لږ وخت له ئې بنده کړي نو د مړو ډيرې به جوړ شي.

## دُعا قبليدو کښې د تاخِير يو سبب

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ډير ځله د دُعا په قبليدو کښې د تاخِير ډير مصلحتونه هُم وي چې په هغې مونږه نه پوهيږو. د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چې کله د **الله** تعالیٰ يو ګران [بنده] دُعا کوي نو **الله** تعالیٰ حضرتِ جِبرئيل (عَلَيْهِ السَّلَام) ته فرمائي، "اودريږه [يعني صبر اوکړه] اوس ئې مه ورکوه چې بيا ئې اُوغواړي ځکه چې زما د ده آواز خوښ دے." او چې کله يو فاسِق او فاجِر دُعا کوي، [نو] فرمائي، اے جِبرئيل(عَلَيْهِ السَّلَام)! د ده کار زر اوکړه، چې بيا ئې اُونه غواړي ځکه چې ما ته د ده آواز مکروه (يعني ناخوښه) دے.

(کَنْزُ الْعُمَّال ج٢ ص٣٩ حديث٣٢٦١)

## واقعه

حضرتِ سَيِّدُنا **يَحْيىٰ** بِن سَعِيد بِن قَطَّان (رَضِیَ اللہُ عَنْہُ) **الله** تعالیٰ په خوب کښې اوليدو، عرض ئې اوکړو، اِلٰهی جَلَّ جَلالُهٗ! زه اکثر دُعا کووم او ته ئې نه قبلوې؟ حُکم اوشو، "اے **يَحْيىٰ** زه ستا آواز خوښووم. ځکه ستا د دُعا په قبلولو کښې تاخِير کووم."

(اَحْسَنُ الْوِعاء ص٣٥)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اوس چې کوم حديثِ پاك او حِکايت تير شو په هغې کښې دا ښودلي شوي دي چې **الله** تعالیٰ ته د خپلو نيکو بندګانو ژړا فرياد خوښ دے نو ځکه هُم کله کله د **دُعا** په قبليدو کښې تاخِير کيږي. اوس مونږه په دې مَصلَحت ښنګه پوهيدے شو!

بهرحال تادي کول نه دي پکار. په اَحۡسَنُ الۡوِعَاء صفحه ۳۳ کښې د دعا د آدابو په بيانولو کښې حضرتِ رئِیسُ الۡمُتَکَلِّمِیۡن مولانا نَقِي علي خان رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي:

## د تادئ کولو والا دُعا نه قبليږي

(د دُعا په آدابو کښې دا هُم دي چې) د **دُعا** په قبليدو کښې دِ تادي نه کوي. په حديث شريف کښې دي چې **الله** تعالیٰ د درې کسانو دُعا نه قبلوي. يو هغه چې د ګُناه **دُعا** اوکړي. بل هغه چې داسې خبره غواړي چې قطعِ رِحم اوشي. دريم هغه چې په قبول [يعني قبليدو] کښې تادي اوکړي چې ما **دُعا** غوښتې ده، تر اوسه قبوله نه شوه.

(صحيح مُسلِم ص۱٤٦٣ حديث ۲۷۳۵)

په دې حديث کښې فرمائيلې شوي دي چې د ناجائِزه کار **دُعا** دِ نه کوي ځکه چې هغه نه قبليږي. او که د يو خپلوان حق ضائع کيږي نو داسې **دُعا** دِ هُم نه غواړي او د **دُعا** د قبوليَّت د پاره دِ تادي هُم نه کوي ګني **دُعا** به نه قبليږي.

په اَحۡسَنُ الۡوِعَاء لآدابِ دُعا باندې اعلٰحضرت، اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اَحمد رضا خان** رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ حاشِيه ليکلې ده او د هغې نوم ئې ذَیۡلُ الۡمُدَّعَا لِاَحۡسَنُ الۡوِعَاء ايښے دے. په هم دې حاشيه کښې په يو مقام کښې د دُعا په قبليدو کښې تادي کولو والا په خپل مخصوص او نِهايت عِلمي انداز کښې داسې پوهه کوي، فرمائي:

## افسرانو ته خو بيا بيا ورځئ خو........

د سګانِ دُنيا (يعني د دُنياوي افسرانو) اُميدواران (يعني د هغوئي په ذريعه د کارونو کولو خواهش مند خلق) ليدل شي چې د درې درې کالو پورې په اُميدوارئ (او انتظار) کښې تيرې کړي. سحر او ماښام د هغوئي دروازے ته ورمنډې وهي، (خوار وزار شي) خو هغه (افسران) دي چې دوئي ته ګوري هُم نه، نه جواب ورکوي، رټل کوي، زړه تنګې وي او مخ ئې پړسيدلے نيولے وي، ځوك

چې په اُمید کښې واچوي لکه بِیګار چې ورته په سر واچوي، دا حضرت (یعني اُمیدوار) د خپله جیبه خوري، د کور نه ئې راغواړي او فُضُوله خواري کوي او هلته (د افسرانو په در کښې د خوارئ زارئ) ګلونه اوشو او داسې ښکاري لکه اوس چې اوله ورځ ده، او دوئي نه نا اُمیده کیږي او نه (د افسرانو نه) قلاریږي. او د اَحۡکَمُ الۡحَاکِمِیۡن، اَکۡرَمُ الۡاَکۡرَمِیۡن جَلَّ جَلَالُہٗ دربار ته خو اول راځي څوك، او كه راشي نو هُم [ډیر زر] تنګ شي، زړه ئې خفه شي، [او وائي] چې د صبا په ځائے مې نن کار اوشي، یوه هفته څه [وظیفه] اولولې نو ګیلې شروع کړي، صاحبه! [وظیفه] خو مې لوستلې ده خو څه اثر اونشو! دا بے وقوفه د ځان د پاره د قبلیدو دروازه پخپله بنده کړي. **مُحَمَّد رَّسُوۡلُ الله** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي:

یُسۡتَجَابُ لِاَحَدِکُمۡ مَالَمۡ یُعۡجِّلۡ یَقُوۡلُ دَعَوۡتُ فَلَمۡ یُسۡتَجَبۡ لِیۡ

ترجمه: ستاسو دُعا قبلیږي تر څو چې تادي اونکړئ، دا مه وائے چې ما دُعا کړې وه قبوله نه شوه.“

(صحیح الْبخاری ج٤، ص٢٠٠، حدیث: ٦٣٤٠)

بعضې خو په دې خبره دومره بے قابو شي چې د وظائفو او دُعاګانو په اثر ئې عقیده ختمه شي، بلکه د **الله** جَلَّ جَلَالُہٗ په وَعدهٔ کرم ئې یقین کم شي، وَالعِیَاذُ بِاللهِ الۡکَرِیۡمِ الۡجَوَاد. داسې خلقو ته چې اوواۓ چې اے بے حیاؤ! بے شرمو! لږ شان خپل ګریوان کښې خو اوګورئ. که ستاسو یو نزدے دوست تاسو ته زر ځله د خپلو کارونو کولو د پاره اُووائي او تاسو د هغه یو کار هُم اونکړئ نو هغه ته خپل کار وئیلو کښې خو به اول شرمیږئ ځکه چې مونږه خو د ده خبره هډو منلې نه ده، اوس په کومه خُله ده ته د خپل کار د پاره اُووایو؟ خو چې مطلب مو پیښ

شي او آخر ورته اُووائے او هغه بيا ستاسو کار اونکړي نو بالکل به ګيله نه محسوسوئ (ځکه چې پوهيږئ به) چې ما (د هغه کار) کله کړے وو چې اوس ئې را له هغه اوکړي.

اوس خپله جائزه واخله چې ته د ټولو جهانونو د مالِك جَلَّ جَلَالُهٗ په خومره احکاماتو عمل کوے؟ د هغه په حُکم عمل نه کول او د خپل درخواست په هر صورت کښې قبليدل غوښتل خومره بے حيائي ده!

اے بے وقوفه! بيا فرق اوګوره! د خپل سر نه ښپو پورې ځان ته په غور اوګوره! په يو يو رګ کښې هر وخت څو څو زره په سوونو زره بيشميره نعمتونه دي. ته اُوده ئې او د هغه معصوم بندګان (يعني فرښتے) ستا د حِفاظت د پاره څوکۍ کوي، ته ګناه کوے او (بيا هم) د سر د ښپو پورې [روغ] صِحت، خيريت، د مصيبتونو نه حِفاظت، د خوراك هضميدل، د فُضلاتو د بدن نه خارجيدل، د وِينې چلن، په اندامونو کښې طاقت، په سترګو کښې رڼرا [او نور]، بے حسابه کرم بے غوښتلو په تا راوريږي. بيا که ستا بعضې خواهشات پوره نه شي نو په کومه خُله ګِيله کوے؟ ته څه خبر ئې چې ستا په څه کښې خير دے! ته څه خبر ئې چې خومره سخت مصيبت راتلو والا وو چې (دې په ظاهره نه قبليدونکې) دُعا حصار کړو، ته څه خبر ئې چې د دې دُعا په عِوض کښې ستا د پاره څنګه ثواب ذخيره کيږي، د هغه وعده رښتيني ده او د قبليدو دا درې واړه صورتونه دي چې په هغې کښې هر وروستے د مخکښني نه غوره دے. خو که بے اعتِقادي راغله نو يقين اوکړه چې نقصان دِ اوشو او اِبلِيسِ لعين ته د خپل ځان په شان کړې. وَالۡعِيَاذُبِاللهِ سُبۡحٰنَهٗ وَتعالٰی (او د الله پناه، هغه پاك دے او عَظَمت والا [دے])

اے ذَلِيلې خاورې! اے ناپاکه څاڅکيه! خپل ځان ته اوګوره او په دې عظيم شرف باندې غور اوکړه چې [هغه عظيم پروردګار] په خپله بارګاه کښې د حاضريدو او د خپل پاك او اُوچت

نوم د اخستو او خپل طرف ته د مخ کولو او د خپلو يادولو تا ته اِجازت درکوي. بيشميره مُرادونه په دې فَضلِ عظيم باندې قربان.

اے بے صبره! لږ خيرات غوښتل خو زده کړه. د دې اوچتې آستانې په خاورو کښې وَرغړه، او پروت اُوسه او اُميد لره چې بس اوس به راکړي! اوس به راکړي! بلکه په غوښتلو او د هغه نه د مُناجات کولو په خوند کښې داسې ډوب شه چې اِراده او مُراد درته هډو ياد نه وي، يقين ساته چې د دې دروازے نه به کله هم بيرته محرومه نه ځے ځکه چې مَنْ دَقَّ بَابَ الْكَرِيْمِ اِنْفَتَحَ (يعني چا چې د کرِيم دروازه اوټکوله، هغه د هغه د پاره برسيره شوه) وَبِاللّٰهِ التَّوْفِيْقُ (او توفيق د الله جَلَّ جَلَالُهٗ له طرفه دے)
(ذَيْلُ الْمُدَّعا لِاَحْسَنِ الْوِعَاء ص ٣٤ تا ٣٧)

## د دُعا په قبليدو کښې ناوخته کيدل خو کرم دے

**حضرتِ** سَيِّدُنا مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي، اے عزيزه ستا پروردګار جَلَّ جَلَالُهٗ فرمائي،

اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ۙ

(پ ٢ البقره:)

[ترجمه: ] زه د دُعا غوښتلو والا دُعا قبلووم چې کله ما نه دُعا اوغواړي.

فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ ﴿٧٥﴾ۖ

(پ ٢٣، اَلصّٰفّٰت: ٧٥)

[ترجمه: ]: مونږه څومره ښه قبلولو والا يو.

اُدْعُوْنِيْۤ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ

(پ ٢٤، الْمُؤمن : ٦٠)

[ترجمه: ]: ما نه دُعا اُوغواړه، زه به ئې قبلووم.

پس یقین اوکنړه چې هغه به تا د خپل دَر نه نه مَحرومه کوي او خپله وعده به پوره فرمائي. هغه خپل حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته فرمائي:

وَاَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿۱۰﴾

(پ ۳۰، و.الضُّحٰی: ۱۰)

[ترجمه:] سوالګر مه رټه.

نو ځکه به دِ ولي د خپل خوانِ کَرَم نه لرې کوي، بلکه هغه په تا باندې د کَرَم نظر ساتي ځکه ستا دُعا قبلولو کښې ناوخته کوي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی كُلِّ حَالٍ

(اَحْسَنُ الْوِعاء ص۳۲، ۳۳)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د تبلیغ قُرآن و سُنَّت د عالـمګیر غیر سیاسي تَحرِیك دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِلو کښې د سُنَّتو ډك سفر په دوران کښې د دُعا غوښتونکو د مسائلو د حل کیدو ډیر واقعات شته دے. [چنانچه]:

## مَدَني قافِله کښې د عِرقُ النِّساء علاج اوشو

د یو اسلامي ورور بیان په خپل انداز کښې د عرض کولو سعادت حاصلووم. زمونږه مَدَني قَافِله تهټّهه ښار ته اورسیده، په شُرَكاءُ کښې به په یو اسلامي ورور د عِرقُ النِّساء ډیر سخت درد راتلو، غریب به د درد د لاسه لګه د بے اوبو مهي ارغښتلو. یوه شپه د درد د لاسه توله شپه اُوده نه شو. په آخِرِئ ورځ امیرِ قافِله اوفرمائیل: راځئ چې ټول په شریکه د دوئي د پاره دُعا اوکړو. چنانچه دُعا شروع شوه، د هغه اسلامي ورور بیان دے چې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د دُعا په دوران کښې درد کمیدل شروع شو او لږ ساعت پس د عِرقُ النِّساء درد بالکل ختم شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د دې بیان ورکولو وخته پورې ډیره موده تیره شوې ده، هغه ورځ وه او دا ورځ ده په ما بیا د عِرقُ النِّساء تکلیف کله هُم نه دے راغلے. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ دا بیان ورکولو وخت

کښې ما ته د علاقائي مَدَني قافِله ذِمّه دار په حيثِيَّت د مَدَني قافلو د ترقئ خِدمت راکړے شوے دے.

گر ہو عرق النسا، یا عارضہ کوئی سا　　پاؤ گے صحتیں قافلے میں چلو
دور بیماریاں اور پریشانیاں　　ہوں گی بس چل پڑیں قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! د مَدَني قافِلے په بَرَکت د عِرقُ النِّساء په شان سخت مَرَض نه خلاصے ورکړے شو. د عِرقُ النِّساء ننبه دا ده چې په دې مَرَض کښې د ورُون د پاسني جوړ نه واخله د ښپې د ګيټئ [پړکو] پورې ډير سخت درد وي او دا مَرَض کلونو پورې نه ختميږي.

## د دُعا غوښتلو ۱۷ مَدَني ګلونه

(تقريباً دا ټول مَدَني ګلونه د اَحسَنُ الوِعاء مع شرح ذَيلُ المُدَّعا لِاَحسَنِ الوِعَاء (مطبوعه مَكْتَبَةُالْمَدِينه کراچي) نه اخذ کړے شوي دي)

﴿۱﴾ هره ورځ کم نه کم شل ځله دُعا کول واجب دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د لمونځ ګزارو دا واجِب په لمانځه کښې په سورةُالفَاتِحه لوستلو پوره کيږي ځکه چې

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ﴿۵﴾

(مفهوم ترجمهٔ كنزُالايمان: مونږه په سَمه لار روان کړې)

هُم دُعا ده او

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ﴿۱﴾

(مفهوم ترجمهٔ كنزُالايمان: ټول ثناء صِفَت الله لره دي چې مالِك دے د ټول جهان والؤ.)

وئيل هُم دُعا ده (ص ۱۲۳) ﴿۲﴾ په **دُعا** کښې دِ د حد نه نه تيرېږي. مَثَلًا د انبياءِ کرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ السَّلَام مرتبه غوښتل يا آسمان ته د ختلو سوال کول. او د دواړو جهانو ټولې ښيګړې او ټول صِفَتونه غوښتل هم منع دي ځکه چې په دې صِفَتونو کښې د انبياء کرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ السَّلَام مرتبې هُم شاملې دي او هغه چا ته نه شي حاصليدے (ص ۸۰، ۸۱) ﴿۳﴾ څه چې مُحال (يعني د نه کيدو) يا مُحال ته نزدے وي، د هغې **دُعا** نه دې کول پکار. لِهٰذا هميشه د پاره تندرستي او خيريت غوښتل چې انسان دِ ټول عُمر هيڅ قِسمه تکليف کښې نه پريوځي، دا د مُحالِ عادي **دُعا** غوښتل دي. هُم دغسې د اُوچتې وَنې والا انسان د پاره د وړے وَنې، يا د وړے سترګې والا کس د پاره د غټو سترګو **دُعا** کول منع دي ځکه چې دا د داسې امر دُعا ده چې په هغې قلم جاري شوے دے (ص۸۱) ﴿٤﴾ د ګُناه **دُعا** دِ نه کوي چې ما ته دِ پرَدے مال راکړے شي ځکه چې د ګناه سوال کول هم ګناه ده. (ص۸۲) ﴿۵﴾ د قطعِ رِحم (مثلًا د فلانکي فلانکي خپلوانو دِ په خپل مينځ کښې جګړه اوشي داسې) **دُعا** دِ نه کوي. (ص۸۲) ﴿٦﴾ د **اللّٰه** تعالٰی نه دِ صرف حقير [يعني کمزورے] څيز نه غواړي ځکه چې پروردګار جَلَّ جَلَالُهٗ غني دے بلکه خپله ټوله تَوَجُّه دِ صرف د هغه په طرف ساتي او د هر څيز دِ د هغه نه سوال کوي (ص۸٤) ﴿۷﴾ د غم او مصيبت نه د ويريدو په وجه دِ د خپل مرګ **دُعا** نه کوي، ياد ساتئ چې د دُنياوي نقصان نه د بچ کيدو د پاره د مرګ خواهش کول ناجائزه دي او د دِيني نقصان د ويرې [د وجهې] جائز دي (ص۸۵، ۸۷) ﴿۸﴾ بے اِجازتِ شرعي د چا د مرګ او خرابئ (بربادئ) **دُعا** دِ نه کوي، البته که د يو کافِر د اِيمان نه راوړلو يقين يا غالِب ګُمان لري او (د هغه) د ژوندي اوسيدو په وجه د دِين نقصان کيږي يا د يو ظالم نه د توبه کولو او د ظُلم پريښودلو اُميد نه وي او د هغه مړه کيدل او تباه کيدل د مخلوق په حق کښې فائده مند وي نو داسې کس ته ښيرے کول صحيح دي (ص۸۷)﴿۹﴾ کوم مسلمان ته دِ دا ښيره نه کوي چې "ته دِ کافِر شې" ځکه چې د بعضې عُلَماءُ په نزد (داسې ښيره کول) کُفر دے او تحقيق دا دے چې که د کُفر ښه يا د اسلام بد ګنړلو په وجه داسې اووائي نو بيشکه کافِر دے ګني غټه ګُناه ده ځکه چې د مسلمان بد غوښتل حرام

دي خصوصاً دا بد غوښتل (چې د فلانکي دِ ایمان برباد شي) خو د هر قِسم بدو غوښتلو نه بدتر دي (ص۹۰) ﴿۱۰﴾ په یو مسلمان دِ هُم لعنت نه کوي او هغه ته دِ مَردُود او ملعُون [یعني لعنتي] نه وائي او د کوم کافِر چې په کُفر مره کیدل یقیني نه وي په هغه دِ هُم د نوم اخستو سره لعنت نه کوي. (ص۹۰) ﴿۱۱﴾ کوم یو مسلمان ته دِ دا ښیرے نه کوي چې "په تا دِ د خُدائے غَضَب نازِل شي او ته دِ اور یا دوزخ ته داخِل کړے شې" ځکه چې په حدیث شریف کښې د دې منع راغلې ده (ص۱۰۰) ﴿۱۲﴾ څوك چې کافِر مړ شو د هغه د پاره د بخښنې دُعا کول حرام او کُفر دے (ص۱۰۰) ﴿۱۳﴾ دا دُعا کول، "یا الله عَزَّوَجَلَّ! د ټولو مسلمانانو ټول ګناهونه معاف کړې." جائز نه دي ځکه چې په دې کښې د هُغه حدیثونو تَکذِیب (یعني دروغ ګڼړل) راځي په کومو کښې چې د بعضو مسلمانانو دوزخ ته تلل راغلي دي (ص۱۰۶) البته داسې دُعا کول چې "د ټول اُمَّتِ مُحَمَّد صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مغفِرت (یعني بخښنه) اوکړې یا ټول مسلمانان اُوبخښې" جائز دي (ص۱۰۳) ﴿۱۴﴾ خپل ځان د پاره او د خپلو یارانو دوستانو، د کور کسانو او مال اولاد د پاره دِ ښیرے نه کوي، څه معلومه ده چې د قبولِیَّت وخت وي او د ښیرو د اثر په ظاهریدو بیا پښیمانه وي (ص۱۰۷) ﴿۱۵﴾ کوم څیز چې ورته حاصِل وي (یعني چې ورسره موجود وي) د هغې دُعا دِ نه کوي مثلًا نارِینه دِ داسې نه وائي چې "یا الله جَلَّ جَلالُهٗ ما نارِینه کړې" ځکه چې دا ټوقې کول دي. البته داسې دُعا چې په هغې کښې د شریعت په حُکم د عمل یا د عاجزۍ او بندګۍ اِظهار یا د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی او د مدینے د تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د مَحبَّت یا دِین او اَهلِ دِین طرف ته رَغبت یا د کُفر او کافرانو نه د نفرت وغیره فائدے ښکاري هغه جائِزه ده اګر که د هغه اَمر حاصلیدل یقیني وي، لکه دُرُود شریف لوستل، د وسیلے، د صراطِ مُستقیم، د الله تعالٰی او د رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُښمنانو ته د غَضَب او لعنت ښیرے کول (ص۱۰۸) ﴿۱۶﴾ په دُعا کښې دِ تنګي نه کوي مثلًا داسې دِ نه وائي چې یا الله صرف ما او زما فلانکي فلانکي دوست ته نعمتونه راکړې (ص۱۰۹)

بهتره دا ده چې ټول مسلمانان په دُعا کښې شامِل کړي، د دې يوه فائده به دا هُم وي چې که پخپله د هغه نيکي خبرې حقدار نه وي هُم، نو د ښو مسلمانانو په خاطر به ئي حاصله کړي

﴿۱۷﴾ حُجّةُ الاِسلام اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: په مضبوطه عقيده دِ دُعا کوي او د قبليدو يقين دِ ساتي.

(اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۱ ص۷۷۰)

## ۱۵ قُرآني دُعاګاني

﴿۱﴾ رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾

(پ۲ اَلبَقرة:۲۰۱ )

مفهوم ترجمه ُکنزُالِايمان: اے ربه زمونږه، مونږ ته په دُنيا کښې ښيګړه راکړې او مونږ ته په آخِرت کښې ښيګړه راکړې او مونږه د دوزخ د عذاب نه اُوساتې.

﴿۲﴾ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَاۤ اِنْ نَّسِیْنَاۤ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ

(پ ۳ البقرة:۲۸٦ )

مفهوم ترجمه ُکنزُالِايمان: اے ربه زمونږه، مونږه مه نيسه که مونږ نه هير شي يا خطا شو.

﴿۳﴾ رَبَّنَا وَ لَا تَحْمِلْ عَلَیْنَاۤ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ

(پ ۳ البقرة:۲۸٦ )

مفهوم ترجمه ُکنزُالِايمان: اے ربه زمونږه، او په مونږه باندې درونډ بوج مه کږده څنګه چې تا زمونږ نه مخکښنو باندې ايښودے وو.

﴿۴﴾ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَیْتَنَا وَ هَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۸﴾

(پ ۳، اٰلِ عمران: ۸)

مفهوم ترجمه ُکنزُالِايمان: اے زمونږه ربه، زمونږه زړونه کاږه مه کړې پس د دې نه، چې تا مونږ ته هدايت راکړو. او مونږ ته د خپل طرف نه رَحمت عطا کړې، بيشکه ته ئي غټ عطا کوونکے.

﴿۵﴾ رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۶﴾

(پ ۳، اٰلِ عمران:۱۶ )

مفهوم ترجمه کنزُالاِیمان: اے ربه زمونږه، مونږ اِیمان راوړو، ته زمونږه ګناهونه معاف کړې او مونږه د دوزخ د عذاب نه بچ کړې.

﴿۶﴾ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْاَبْرَارِ ﴿۱۹۳﴾

(پ ٤، اٰلِ عمران: ۱۹۳)

مفهوم ترجمه کنزُالاِیمان: اے ربه زمونږه، ته زمونږه ګناهونه اوبخښې او زمونږه بدئ لرې کړې او زمونږه مرګ ښو [خلقو] سره کړې.

﴿۷﴾ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾

(پ ۸، الاعراف :٤٧ )

مفهوم ترجمه کنزُالاِیمان: اے زمونږه ربه، مونږه ظالِمَانو سره مه کړې.

﴿۸﴾ رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲۶﴾

(پ ۹، الاعراف :۱۲٦)

مفهوم ترجمه کنزُالاِیمان: اے ربه زمونږه، په مونږه صبر راواړوې او مونږه مسلمانان اوچت کړې.

﴿۹﴾ رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ۖ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿۴۰﴾

(پ ۱۳، ابراهيم : ٤٠)

مفهوم ترجمه کنزُالاِیمان: اے زما ربه، ما د لمونځ قائمولو والا اُوساتې او څه زما اولاد، اے زمونږه ربه او زمونږه دُعا قبوله کړې.

﴿۱۰﴾ رَبَّنَا اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ﴿۴۱﴾

(پ ۱۳، ابراهيم : ٤١)

مفهوم ترجمه کنزُالاِیمان: اے زمونږه ربه ما اُوبخښې او زما مور او پلار او ټول مسلمانان په کومه ورځ به چې حساب قائميږي.

﴿۱۱﴾ رَبَّنَاۤ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَیْرُ الرّٰحِمِیْنَ ﴿۱۰۹﴾

(پ ۱۸، المؤمنون : ۱۰۹ )

مفهوم ترجمه کنزُالاِیمان: اے زمونږه ربه مونږ ایمان راوړو، ته مونږه اُوبخښې او په مونږه رحم اوکړې او ته د ټولو نه بهتر رحم کوونکے ئې.

﴿۱۲﴾ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَ ذُرِّیّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْیُنٍ وَّ اجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِیْنَ اِمَامًا ﴿۷۴﴾

(پ ۱۹، الفرقان :۷٤ )

مفهوم ترجمه کنزُالاِیمان: اے زمونږه ربه مونږ ته راکړې زمونږه د بیبیانو او زمونږه د اولاد نه د سترګو یخوالے او مونږه د پرهیزګارو اِمام [یعني مشر] جوړ کړې.

﴿۱۳﴾ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَ لِاِخْوَانِنَا الَّذِیْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِیْمَانِ وَ لَا تَجْعَلْ فِیْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَاۤ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۰﴾

(پ ۲۸، الحشر : ۱۰ )

مفهوم ترجمه کنزُالاِیمان: اے زمونږه ربه مونږه اوبخښې او زمونږه ورونړه چا چې زمونږ نه مخکښې اِیمان راوړے او زمونږه په زړونو کښې د اِیمان والؤ له طرفه کِینه مه ساتې اے ربه زمونږه بیشکه هُم ته ډیر زیات مهربانه او رحم والا ئې.

﴿۱٤﴾ رَبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ الشَّیٰطِیْنِ ﴿۹۷﴾

(پ ۱۸، اَلْمُؤمنون: ۹۷)

مفهوم ترجمه کنزُالاِیمان: اے زما ربه ستا پناه [غواړم] د شیطانانو د وسوسو نه.

﴿۱۵﴾ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّیٰنِیْ صَغِیْرًا ﴿۲٤﴾

(پ ۱۵، بنی اسراءیل : ۲٤ )

مفهوم ترجمه کنزُالاِیمان: اے زما ربه ته په هغه دواړو رحم اوکړې څنګه چې هغه دواړو زه په ماشوم والي کښې پاللے ووم.

# د قُرآن د څلورو حُروفو په نِسبت
# د آيتُ الْكُرسی څلور فضائِل

(۱) په حديث شريف کښې دي چې دا آيت د قُرآنِ مَجِيد په آيتونو کښې ډير زيات عَظَمت والا آيت دے.

(اَلدَّر الْمَنْثُور ج۲ ص۶)

(۲) د **حضرتِ** سيّدُنا **اُبَیُ** بِن **کَعب** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے اَبُو مُنذِر! آيا تا ته معلومه ده چې د قُرآنِ پاك کوم آيتونه چې تا ته ياد دي په هغي کښې کوم يو آيت **عظيم** دے؟ ماعرض اوکړو:

اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلۡحَیُّ الۡقَیُّوۡمُ ۬ۚ

بيا رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما سينه په لاس اووهله او ا اوئے فرمائيل: اے اَبُو مُنذِر! تا ته دِ عِلم مبارك شي.

(صحيح مُسلِم ص۴۰۶، حديث۸۱۰)

(۳) د **مُستدرك** په يو رِوايت کښې دي چې په "سُوْرَةُ البَقَرَه" کښې يو آيت دے کوم چې د قُرآنِ پاك د ټولو آيتونو سردار دے، هغه آيت چې په کوم کور کښې اوويلے شي شيطان د هغه کور نه اُوځي او هغه آيتُ الْكُرسی دے. (مُستَدرَك لِلحاكِم ج۲ ص۶۴۷، حديث۳۰۸۰)

(۴) اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ علي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم فرمائي چې ما د حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه په مِنبر باندې فرمان واوريدو، څوك چې هر لـمانځه نه پس آيتُ الْكُرسی لولي، هغه جَنَّت ته داخليدو نه د مرګ نه سِوا يو څيز هُم نه حصاروي او څوك چې د شپې اُوده کيدو وخت کښې دا لولي الله تَعَالٰى به هغه، د هغه كور او د خوا و شا كورونه **محفوظه** کړي.

(شُعَبُ الْاِيمان ج۲ ص۴۵۸ حديث۲۳۹۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د آیتُ الْکُرسی پېنځه بَرَکتونه

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! څوك چې د هر لـمانځه نه پس آیتُالْکُرسِی لولي هغه ته به دا لاندې لیکلې شوې برکتونه نصیب کیږي.

﴿۱﴾ هغه به د مړ کیدو نه پس جَنَّت ته ځي. اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی

﴿۲﴾ هغه به د شیطان او پیریانو ټولو شرارتونو نه په حفاظت کښې اوسي.

﴿۳﴾ که مُحتاجه وي نو په یو څو ورځو کښې به ئې مُحتاجي او غریبي لرې شي.

﴿٤﴾ څوك چې سحر ماښام او په بستره د څملاستو وخت کښې آیتُالْکُرسِی او په هغې پسے دوه آیتونه د خَلِدُون پورې لوَلي هغه به د غلا، ډوبیدو او سوَزیدو نه حِفاظت کښې اوسي. اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی

﴿٥﴾ که د دې لیکلې شوې کُتبه [یعني تختئ] په کور کښې د ټولو نه یو اوچت ځائے کښې زوړنده کړے شي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی په هغه کور کښې به کله لوَږه نه راځي بلکه په روزئ کښې به بَرَکت او اِضافه کیږي. او هغه کور ته به کله هُم غل نه شي راتلے. اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی
(جنتی زیور ص۵۸۹)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو نه خوښه دُعا

د الله تعالیٰ آخري نبي محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے:

د چا د پاره چې د دُعا دروازه برسیره کړے شوه، د هغه د پاره د رحمت دروازه برسیره کړے شوه. د الله پاک نه کیدونکو سوالونو کښې د ټولو نه خوښ سوال د عافیت [یعنې د خیر] دے. کوم مصیبتونه چې نازل شوي دي او کوم چې نه دي نازل شوي په هغو ټولو کښې د دعا سره نفع [فائده] کیږي، نو اے د الله بندګانو! دعا کول (په ځان) لازم کړئ.

(ترمذی، 5 / 321، حدیث: 3559)


فیضانِ مدینه، محلّه سوداګران، زړه سبزي منډهي کراچۍ

UAN: +92 21 111 25 26 92 I Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com I E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com